# له کاربن مونو اوکسایډ او ګاز څخه د ځان خوندیتوب

## کاربن مونو اوکسایډ څه شی دی؟

کاربن مونو اوکسایډ یو ډول بې رنګه، بې بویه او بې خونده مسموم کوونکی ګاز دی چې (د ګازو، تیلو، لرګي، پیټرولو او د ډبرو د سکرو په ګډون) د کاربن لرونکو سونګ توکو د نابشپړ سوځېدو له امله رامنځ ته کیږي.

له دې امله چې کاربن مونو اوکسایډ په سترګو نه لیدل کیږي، خوند یا بوی نه لري، ډېر خطرناک ګڼل کیږي او په ځینو شرایطو کې کولای شي ژر او له مخکینۍ خبرتیا پرته څوک ووژني.

## په کاربن مونو اوکسایډ باندې د مسموم کېدو نښې نښانې



سردردي　　کانګې　　سرګیچي　　نفس تنګي



لوېدل　　د شعور له لاسه ورکول

## د کاربن مونو اوکسایډ نښې نښانې

- په ډېری ګرموونکو وسیلو کې د اور لمبې باید ځرګندې او آبي وي.
- ژېړې یا نارنجي لمبې باید د یوه متخصص کس له خوا وکتل شي.
- د وسایلو لکه کېدو، دودګن کېدو یا د رنګ تغیر ته متوجه اوسئ.
- د تودوخې تراکم ته متوجه اوسئ.
- آزمایښتي څراغ اکثراً ګل کیږي.

که اندېښنه لرئ چې په کور کې مو کاربن مونو اوکسایډ شتون لري، یا مو د کاربن مونو اوکسایډ د مسموم کېدو نښې نښانې ولیدې، په سملاسي ډول د ګازو د بېړنیو خدماتو له ملي اداري سره په **0800 111 999** شمېره اړیکه ونیسئ.

# له کاربن مونو اوکسایډ څخه د خوندیتوب لارې چارې

- د ډبرو د سکرو، تېلو او طبیعي ګازو وسایل په کلني ډول د مسلکي متخصص په واسطه چک کړئ
- د کاربن مونو اوکسایډ د خطر زنګ ولګوئ او همېشه د تولیدوونکي لاربښووني تعقیب کړئ
- خپل د کاربن مونو اوکسایډ د خطر زنګ همېشه د تولیدوونکي د لاربښوونو مطابق چک کړئ او د اړتیا په صورت کې د زنګ بېټرۍ/د خطر زنګ بدل کړئ
- د وسایلو لپاره د مناسبې تهویې له شتون څخه ځان ډاډمن کړئ او د هوا مدخل مه بندوئ
- که تاسو په کاربن مونو اوکسایډ یا د کاربن مونو اوکسایډ د خطر په زنګ باندې مشکوک یاستئ، وسایل ګل کړئ او په سملاسي توګه د مرستې غوښتنه وکړئ
- هېڅکله باربیکیو یا د انتقال وړ پخوونکي وسیله له مناسبتې تهویې پرته بندې فضا ته مه راوړئ

## مدد ګاز د بېړني وضعیت اداره

SGN ستاسو په سیمه کې د ملي ګاز د بېړني وضعیت اضطراري ځواب ورانديز کوي. که چېرې تاسو د ګاز د وتو یا د کاربن مونو اوکسایډ د اندېښنو په اړه راپور ورکړئ، د هغوی انجینران 24 ساعته خدمات وړاندې کوي او سیمې ته ځان رسوي ترڅو وضعیت خوندي کړي.

### د ګاز د بوی په صورت کې، شیږ لاندې مرحلې تعقیب کړئ:

| | |
|---|---|
| ✓ د ګاز د وتو په موخه کړکۍ او دروازې پرانیستې پرېږدئ | ✗ سګرټ مه څکوئ او له څرګندو لمبو څخه استفاده مه کوئ |
| ✓ په مېټر کې ګازی وسیله ګل کړئ او ډاډ حاصل کړئ چې هر ډول ګازی وسایل ګل دي | ✗ برېښنايي سوېچونه مه لمس کوئ. د سویچ ګلول او بلول کېدی ش د ګاز د لیک کېدو لامل شي |
| ✓ د ګاز ملي ادارې ته په **0800 111 999** شمېره زنګ ووهئ. تلفونی کرښې په ورځ کې 24 ساعته، **365** ورځې په کال کې فعالې دي | ✗ زېرخانې ته مه ننه کېږئ حتی که چېرې ستاسو د ګاز مېټر په زېرخانه کې وي |

SGN
Your gas. Our network.